# دَ بدل په حقله تعليم

# دَ بدل په حقله تعليم

يريږئ مۀ! ستاسو خدائ به ستاسو دښمنانو له سزا ورکړی.
خدائ به دَ دوی نه ستاسو بدل واخلی او تاسو به بچ کړی.
(اشعيا ۳۵:٤)

# خدائ همشه ښهٔ کوی

ستا نه ګیر چاپیره به قومونه راغونډ شی او تهٔ به د هغوی په وړاندی آسمان ته پورته شی..خدائ د قومونو عدالت کوی.
اے خدایا! زما دَ صداقت او رښتینئ په شان زما عدالت وکړه.

د شریرانو بدی ختمه کړه او صادقانو له قوت ورکړه.
ځکه چی صادق خدائ دَ زړونو اَؤ دَ پښتورړو ازماونکے دے.

خدائ زما ډال دے چی ریښتینی زړونو له خلاصون ورکوی.
خدائ صادق انصاف کونکے دے.

بلکه داسی خدائ چی په هره ورځ په قهر کیږی.
د خدائ دَ صداقت په مطابق به زهٔ دَ هغهٔ شکر کوم او دَ خدائ دَ نوم ثنا به کوم.(زبور ۷:۷-۱۱، ۱۷)

# آيا زۀ هميشه ښۀ کوم

**کيدے شی چی خلق يوبل له تکليف ورکړی او کيدے شی چی ځينی خلق دَ بدل اخستو اِراده وکړی. خو آيا دا انصاف دے؟**

**خدائ فرمائی**: خپل ځان دَ دے موجُوده دُنيا په شان مۀ جوړوئ،بلکه بويه چه ستاسو پوهه بيا نوے کړے شی اَو دَ دے په وسيله ستاسو فطرت بلکل بدل شی.
(خط دَ روميانو په نوم۱۲:۲)

خپل بدل مۀ اخلئ. (خط دَ روميانو په نوم ۱۲:۱۹)

**عيسیٰ مسيح وفرمائيل**: غيبت مۀ کوئ نو ستاسو غيبت به هم ونۀ کړے شی. بل څوک مۀ مُجرموئ نو تاسو به هم مُجرم ونۀ ګڼلے شئ. (لوقا٦:۳۷)

دَ بدو په بدل کښے بد مۀ کوئ او دَ کنځلو په بدل کښے کنځل مۀ کوئ، بلکه دَ دے په ځائے برکت غواړئ ځکه تاسو دَ برکت دَ وارث کيدو دَ پاره رابللی شوی يئ.
(اول حط دَ پطرس ۳:۹)

# ما له څنګه عمل کول پکار دی؟

## څوک چې ما له تکلیف راکوی ما له هغوئ سره څهٔ کول پکار دی؟

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل**: تاسو خبر یئ چه دا وئیلی شوی وو چه''دَ سترګے په بدل کښے سترګه اَؤ دَغاښ په بدل کښے غاښ''خو زهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ هغه سړی بر خلاف مه ودریږئ څوک چه درسره بد کوی. کهٔ څوک درله په ښی مخ څپیړه در کړی نو ګس مخ وروړاندے کړه.

تاسو خبر یئ چه هغوی ته وئیلی شوی وو چه ''دَ خپل ګاونډی سره مینه کوئ اَؤ دَ خپل دُښمن نه کرکه.''خو زهٔ درته دا وایم چه دَ خپلو دُښمنانو سره مینه کوئ،اَؤ څوک چه په تاسو ظلم کوی دَ هغو دپاره دُعا غواړئ
(متی ٥:٣٨-٣٩، ٤٣-٤٤)

**پولس رسول وفرمائیل**: ګورئ،چه څوک دَ بدئ په بدله کښے بدی ونهٔ کړی بلکه همشیه په نیکئ پسے ګرزئ، دَ یو بل سره اَؤ دَ نورو سره هم. ( اول خط دَ تِسالونیکیانو په نوم ٥:١٥)

چه تاسو تنګوی دَ هغوی خیر غواړئ، برکت ئے غواړئ ، بد ورته مهٔ وایئ.دَ بدئ په بدله کښے چا سره بدی مهٔ کوئ. کومے خبری چه دَ هر چا په نظر کښے ښے دی هم هغه کوئ. دَ بدئ نه مغلوب کیږه مه بلکه دَ نیکئ په وسیله په بدئ غالب شه.(خط دَ رومیانو په نوم ١٢:١٤، ١٧، ٢١.)

**دَحکمت والا نبی حضرت سلیمان وفرمائیل**: کهٔ چرې ستاسو دښمنان وږی وی نو هغوی له دَ خوراک دپاره څهٔ ورکړئ. اَؤ کهٔ هغوی تږی وی نو هغوی له دَ څښلو دپاره څهٔ ورکړه اَؤ دَ به داسی وی لکه چی په هغوی اُور بل کړی. اَؤ خدائ به تاسو له دَ دِ اجر درکړی. (متلونه ٢٥:٢١-٢٢)

# ولی زهٔ ؟

## هڅوک هم کامل نشته اَوْ همیشه انصاف نهٔ کوی

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل**:که چرے تاسو تش دَ هغو سره مینه کوئ څوک چه تاسو سره مینه نو بیا تاسو دَ څهٔ اَجر طمعدار یئ؟ ولے چه محصُولچیان هم دغسے کوی. که چرے تاسو تش په خپلو وروڼو سلام اچوئ نو دَ کومه نا آشنا خبره ده؟ دغه څهٔ خو غیر قومونه هم کوی.تاسو کامل شئ لکه څنګه چه ستاسو پلار کامل دے. (متی ٥:٤٦، ٤٧- ٤٨)

تاسو دَ خپل ورور دَ سترګے خسڼی ته ولے ګوته نیسئ چه په خپله مو سترګه کښے تیر غړیږی؟ اَوْ تهٔ څهٔ رنګ خپل ورور ته دا ویئلے شے چه راشه ستا دَ سترګی نه دَ خسڼے وباسم، هر کلا چه ستا په خپله سترګه کښے تیر غړیږی؟ اَئے ریاکاره! اول دَ خپلے سترګے نه تیر وباسه، نو بیا به ستا نظر تیز شی اَوْ دَ خپل ورور دَ سترګے نه به خسڼے هم وویستے شی. (متی ٧:٣_٥)

# دَ بدل اخستلو انجام وی

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل**: څوک چه توره چلوی په تُورو مری.
(متی ٢٦:٥٢ )

ځکه چه کۀ تاسو دَ هغه چا قصور معاف کړئ چا چه درسره بد کړی وی،نو ستاسو آسمانی پلار به هم تاسو معاف کړی.خو کۀ چرے تاسو نور نۀ معاف کوئ نو ستاسو قصُورونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نۀ کړی. (متی ٦:١٤_١٥)

**خدائ مونږ له زمونږ دَ عمَلو په مُطابق سزا نۀ راکوی. نو بیا مونږ څنګه نورو خلقو له د هغوی د عملونو په مطابق سزا ورکولے شو.**

خدائ به همشه کِینه نۀ کوی اَؤ غُصه تر ابَده پوری نۀ ساتی. هغۀ زمونږ دَ ګناهونو په مطابق زمونږ سره سلوک ونۀ کړو اَؤ زمونږ دَ ګناهونو بدله یئ را نۀ کړه. (زبور ١٠٣:٩_١٠)

خو خُدائے خپله مینه مُونږ ته داسی ښکاره کړه، کله چه مُونږ لا ګناه ګار وو نو مسیح زمُونږ دپاره مړ شو. (رومیانو ٥:٨)
**عیسیٰ مسیح وفرمائیل**: معاف کوئ نو تاسو به هم معاف کړئے شئ.
(لوقا ٦:٣٧)

# زۀ څنګه کولے شم؟

**مونږ له په خدائ باندې اعتماد کول پکار دی ځوک چه صرف انصاف کوی اؤ همیشه ښۀ کارونه کوی.**

**خدائے فرمائی:** چه بدل اخستل زما کار دے بدل به زۀ اخلم. (خط دَ رومیانو په نوم ۱۲:۱۹)

خو خدائ تر اَبَده پورې ناست دے هغۀ دَ عدالت دپاره خپل تخت تیار کړے دے اَؤ هغه به په صداقت سره دَ دُنیا عدالت وکړی هغه به په راستئ سره دَ اُمتونو اِنصاف وکړی. (زبور ۹:۷_۸)

**زمونږ اِعتماد دِ په مسیح باندې وی ځوک به چه دَ قیامت په ورځ دَ ټولې دُنیا عدالت کوی.**

ځکه چه اِبن آدم به دَ خپل پلار په لوئی کښې دَ خپلو فرښتو په ملګرتیا کښې راځی اَؤ بیا به هغه هر چا ته دَ خپل کړی عمل بدل ورکوی. (متی ۱٦:۲۷)

ځکه چه هغۀ یوه ورځ مقرره کړے ده چه هغه به دَ دُنیا عدالت په صحیح صداقت سره دَ سړی په وسیله وکړی چه هغۀ غوره کړے دے اَؤ دغه شان ئے هر چا ته ثابته کړه چه هغه ئے له مړو نه بیا راژوندے کړو. (اعمال دَ رسولانو ۱۷:۳۱)

# دَ انصاف دپاره اَؤ دَ گناهونو نه دَ معافئ دپاره دُعا

**اے خدایا زما مدد وکړه چه اِنصاف زما په ژوند کښی راشی اَؤ په دِ دنیا کښی.**

**اَؤ زما مدد وکړه چه زۀ هغه خلق معاف کړم چه ما له تکلیف راکوی اَؤ زما اعتماد په تا باندی وی. عیسیٰ مسیح مونږ ته دعا کول وښودل**

نو داسی دعا کوئ:
اَئے په آسمان کښے زمونږ پلاره
زمُونږ قصورونه معاف کړه
لکه څنګه چه مُونږ خپل قصوروار معاف کړی دی.
(متی ۶:۹، ۱۲ )

**بائبل مُقدس کښی لیکلی دی**

چه دَ هغوی دِفاع وکړئ څوک چه مجبور دی اَؤ هیڅ اُمید نهٔ لری

اَؤ دَ هغوی سره انصاف وکړئ څوک چه بیکوره غریبانان ،
اَؤ مِسکینان دی.

( متلونه ۳۱:۸_۹)

**زما ایمان اُس په تا (خدائ)باندی د ے.**

**آمین.**

په بائبل مقدس کښی دَ دِ په حقله ډیر ذکر شوے چه خدائ پاک به څنګه زمونږ په ژوند کښیاَوُ په دِ دُنیا کښی اِنصاف راولی.
نور تاسو پخپله دَ اِنجیل شریف په مطالعی سره معلومولے شئ.

SGM International

Pashto (LoR), 2004, 3. 5 m